# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com


| جانبازان | Martyrs |
|---|---|

## ملګری فیض احمد، د افغانستان د کيڼ انقلابي غورځنګ ستر لاربنود

د ۱۳۶۵ کال د لړم په ۲۱ نېټه د افغانستان انقلابي غورځنګ يو وار بيا خپل يو بل لاسه ورکړ. په دغه ورځ د ملګري ډاکتر فيض احمد وينه د يو شمير نورو انقلابي ملګرو تر څنګ د ګلبديني قصابانو په لاس وبهيدله، څو د انقلاب سور ګل وغوړيږي او د ولسي پرګنو د خلاصون ورمه په څپو شي.

ملګري فيض احمد چې خپل ټول ژوند د افغانستان د زيارکښانو او انقلابي غورځنګ د ودې او پرمختګ لپاره ورکړی و، وروسته له دې چې «نوی دموکراتيک غورځنګ» له زياتو انحرافاتو او اشتباهاتو سره مخامخ شو او ډاکتر فيض، نور له داسې غورځنګ سره يو ځای کار نشو کولای، له هغې څخه جلا او د «افغانستان د ولسونو انقلابي ډله» يې د يو شمير نورو ملګرو په مرسته جوړه کړه، څو د افغانستان انقلابي غورځنګ ته نوی الترناتيو وړاندې او د دغه غورځنګ غړي په کې راټول کړی. «د افغانستان د ولسونو انقلابي ډله» د ډاکتر فيض تر مشرۍ لاندې ډير ژر پراخه او په ټو ولايتونو کې يې منظم تشکيلاتي کار پيل کړ او د روسانو ګوډاګي دولت ته په ستر ګواښ بدله شوه. د ۱۳۵۸ کال د زمري په ۱۴ نيټه کله چې «د افغانستان د ولسونو انقلابي ډله» په بالاحصار کې نظامي حرکت تر سره کړ، سره له دې چې دغه حرکت يو اشتباه و، خو په ډاګه يې کړه چې دا ډله له څومره ځواک او پياوړتيا څخه برخمنه ده. د دغه حرکت په پايله کې د «ډلې» يو شمير زيات غړي او کادرونه يا شهيدان او يا بنديان شول، چې په خپله ملګری ډاکتر هم په کې شامل و. ملګری فيض احمد له نيول کيدو څو ورځې وروسته په دې وتوانيد چې له صدارت زندان څخه وتښتي او بيرته له «ډلې» سره يو ځای شي. د بالاحصار حرکت پر «ډلې» مرګوني ضربه وارده کړه، چې که د ملګري فيض احمد په څير لاربنود يې نه درلودلای، ښايي ډله په هماغه لومړيو ورځو کې له منځه تللي وای، خو د ملګري ډاکتر درايت او سياسي او تشکيلاتي پوهه د دې لامل شوه چې «د افغانستان د ولسونو انقلابي ډله» له حتمي له منځه تللو څخه وژغوري او پر ستونزو برلاسي شي.

وروسته له دې چې په کال ۱۳۵۹ کې «د افغانستان د ولسونو انقلابي ډله» په «رهايي سازمان» بدله شوه، دا هغه مهال و چې هيواد د روسانو تر مستقيم يرغل لاندې راغلی او د هيواد په هر ګوټ کې د خپلواکۍ جګړې لمبې بلې شوې وې. د سازمان زيات غړي د روسانو په وړاندې د جګړې لپاره جبهو ته واستول شول او د سازمان د کار په وړاندې ستونزې لا زياتې شوې. رهايي سازمان د ملګري ډاکتر فيض احمد تر مشرۍ لاندې له يوې خوا د روسانو او د هغوی د ګوډاګي رژيم او له بلې خوا د مذهبي فاشيستي تنظيمونو تر مستقيم ګواښ لاندې راغی، چې په دې ترڅ کې د سازمان د لسګونو کادرونو او غړو ويني د روسانو او يا مذهبي فاشيستانو په لاس توی او په دې توګه د انقلابي غورځنګ د شهيدانو له ستر کاروان سره چې لست يې خورا اوږد دی يو ځای شول. محسن،

راهب، داود، اشرف، استاد حبيب الله، نعمت، بصيرجان، ماما حکيم، يوسف، ډاکتر صمد دراني، ډاکتر اسد، پسرلی، فهيم، سعيدجان، الفت، حارث، نجيب، حمزه، قباد، يعقوب، عبدالله، ميرويس، محمود، فياض او د سازمان لسګونه نور غړي چې د آزادۍ او خپلې ايديولوژۍ په لاره کې له خپلو سرونو تير شول، د انقلاب نيالګی يې په خپلو سرو وينو اوبه کړ او په هرې دښتې او درې کې يې سره غاټول وغوړول.

د افغانستان انقلابي سازمان د دې تر څنګ چې د ملګري فيض احمد د شهادت د ورځې لمانځنه کوی، تر څنګ يې د افغانستان د انقلابي غورځنګ د نورو رهبرانو لکه اکرم ياري، مجيد کلکانی او لطيف محمودي لمانځنه هم کوي چې سرښندنه او انقلابي عمل او کار يې د انقلابي سازمانونو لپاره د لارې مشعل دی.

د افغانستان انقلابي سازمان ټينګه ژمنه کړې چې په هيڅ ډول به هغو کسانو او ډلو ټپلو ته اجازه ورنکړي چې د ملګري فيض احمد سره لاره له امپرياليستي هيوادونو نه د مډالونو په اخيستلو سره له خپل برم او اعتبار څخه تشه کړي. د افغانستان انقلابي سازمان ژمنه کوي تر هغو به د ملګري فيض احمد او د هغه د تللو يارانو سور بيرغ پر خپلو اوږو رپوي او د هغوی لارې ته به دوام ورکوي، څو د غړو په تن کې يې ساه وي او په رګونو کې يې وينه. د تللو ملګرو د سرو وينو واقعي لمانځنه يوازې هغه وخت تر سره کيدای شي چې د هغوی ميرانه، سرښندنه، له ملګرو سره مينه او له امپرياليستانو څخه کرکه نه په لفظ بلکې په عمل کې پلې کړو.

**مړ دې وي امپرياليزم**

**مخ په وړاندې د سوسياليزم په لور**

د افغانستان انقلابي سازمان

د ۱۳۸۹ د لړم ۲۱